(1)

## د ښوونکي او زدکوونکي وجايب

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **«يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ» ژباړه:« نو پاڅېږئ. ستاسي څخه چي کوم کسان ايمان لرونکي دي او کومو کسانو ته چي علم ورکړ شويدی، الله به هغو ته لوړي درجې په برخه کړي. او تاسي چي څه کوئ، الله پرې ښه خبر دی.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

دا چې مونږ د نوي تعليمي کال د پيل په درشل کې يو د الله جل جلاله څخه دغه غوښتنه کوو چې دغه کال د کوښښ د هڅو د کاميابيو او د برياليتوب کال وګرځوي ترڅو زمونږ ټول زدکوونکي بريالي شي بی له شکه چې د اسلام مبارک دين علم لپاره ډير لوي ځاي ورکړی دی او ددی لپآره يي ډيره پاملرنه کړی ده ځکه چې همدا علم دی چې د زړونو ژوند او د سترګو رڼا رامنځته کوي ځکه چې د علم خاوند د علم له کبله لوړو درجو ته رسيږي او په دنيا اوآخرت کې برياليتوب ترلاسه کوي د علم له کبله هغه صله رحمي کوي حلال او حرام پيژني الله جل جلاله د علم له کبله انسانان لوړ کړي دي او په هغوي کې مشران امامان رامنځته کړي چې د هغوي د اثارو او د کړنو تابعداري کيږي الله جل جلاله فرمايي:«قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ» ژباړه:« "ايا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي يو شانته کېدای شي؟" - نصيحت خو د پوهي خاوندان مني».

په علم باندي د اسلام د مبارک دین ځانګړي پاملرنه د لومړیو څخه چې کله قرانکریم رانازل شو دیته یې نظر کړی وو لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ» ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] ولوله، د خپل رب په نوم چې هغه (ټول مخلوقات) پيدا کړي؛* د کلکي شوي ويني له يوې ټوټې څخه يې انسان هست کړ؛* ولوله، او ستا رب ډېر مهربان دی؛* چې هغه د قلم په مرسته (انسان ته) علم وښودی؛* انسان ته يې هغه علم ورکړ، چې هغه پرې نه پوهېدی.» د وحي له لاري چې لومړني څه نازل شوي دی هغه په لوستلو باندي امر وو چې دا پخپله د علم د دروازو لپاره ترټولو مهمه دروازه ګڼل کیږي بیا له هغه وروسته قلم ته اشاره شوی ده چې هغه د لیکلو او د علم یو له بل څخه د لیږدولو یو وسیله ګڼل کیږي نو بدي کې خلکو لپآره ددي خبرداری ورکړي دی چې د علم فضیلت لوړ دی او همدارنګه خلک یی دیته هڅولي دي چې ددی غوښتنه وکړي او هڅونه پری وکړي.
د علم یو لوي ځاي او د علم خاوندانو لپاره لوړي مرتبي دي که چیرته علم او علماؤ شتون نه درلود نو خلک به ګمراه شوي وو علم نور دی چې خاوند يي د چارو حقیقتونو ته ځان رسولی شي او د خلکو لپآره علماء لکه د سترو په شان دي لکه چې په اسمان کې هغوي ته لاره ښایي الله جل جلاله فرمايي:« أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَى إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الأَلْبَابِ» ژباړه:« ښه نو، دا څنګه کېدای شي؛ هغه څوك چې ستا د رب دغه کتاب، چې پر تا باندي نازل کړ شوی دی، حق پېژني؛ او هغه څوك چې ددې حقیقت له پلوه ړوند دی، دواړه يو شان شي؟ - نصيحت خو هوښياران خلك مني.» ګویا چې الله جل جلاله پدغه ایت کې خلک دوه ډولو ته ویشلي دي یو عالم او بل هم ړوند نو علم یي د ړوندوالي په مقابل کې ذکر کړی دی د بصیرت څخه دلته مقصد د علم او د پوهي بصیرت دی د لیدلو بصیرت دی لکه چې الله جل جلاله

فرمايي:« فَإِنَّهَا لاَ تَعْمَى الأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ» ژباړه:« حقيقت دا دی چې سترګي نه ړنديږي، خو هغه زړونه ړنديږي چې په سينو» نو د همدي لپاره قرانکريم د علم شان لوړ کړی دی او د هغه تعبير يې په دليل او سلطان باندی کړی دی لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ الَّذِينَ آمَنُوا» ژباړه:« او دغه خلك د الله په ايتونو باندي جګړې کوي، بې له دې چي هغو ته کوم سند يا دليل راغلی وي. دغه کړنلاره د الله او د مؤمنانو په وړاندي سخته کرکجنه ده».

پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم د علم مرتبه او د هغي د غوښتوني او د ترلاسه کولو فضيلت بيان کړی دی لکه چې فرمايي: څوک چې داسی يولاره غوره کړي چې په هغي کې د علم ترلاسه کول وي الله جل جلاله به هغه ته د جنت لاری آسانه او وروښايی او يقينا چې ملائکي خپل وزري د علم د ترلاسه کوونکي او د متعلم لپآره غوړوي او د عالم لپآره په آسمانونو او په ځمکه کې هغه څوک چې ژوند کوي د بخښني غوښتنه کوي او همدارنګه د اوبو په منځ کې ماران ورته د بخښني غوښتنه کوي او د عالم فضيلت په عابد باندي داسی دی لکه د ليله البدر د شپي د سپوږمي فضيلت په نورو باندي او علماء د انبياؤ وارثان دي او انبياؤ دينار او درهم په ميراث کې ندی پريښي بلکي علم يې په ميراث کې پريښي دی نو څوک چې دا علم ترلاسه کړي نو هغه يوه لويه برخه ترلاسه کړی ده او د ابي ذر رضي الله عنه څخه روايت دی دی وايي چې ماته نبي کريم (ص) وفرمايل چې اي ابوذره که چيرته ته د الله جل جلاله د کتاب څخه يو آيت زدکړي نو دا تا لپاره د زرو رکعاتو لمونځ څخه غوره دی او که چيرته ته د علم د يو باب څخه يو باب زدکړي او په هغه باندی عمل وکړي او که ونکړي دا تا لپاره د زرو رکعاتو لمونځو څخه غوره ده او امام علي (رض) فرمايي چې علم د مال څخه غوره دی ځکه

چې علم تا ساتي او مال به ته ساتي علم حاکم دی او مال محکوم دی مال د نفقی له وجي کميږي او علم د نفقي او د استعمالولو له وجي زياتيږي.
او د علم لپاره لوړ اخلاق موجود دی او داسی آداب موجود دی چې بايد طالب علم هغه پخپل ځان کې راولي ترټولو مهمي دادي چې خاص الله لپآره اخلاص ولري نو په همدي ځاي کې په ښوونکي او زدکوونکي دواړو ته لازمه ده چې د علم د ترلاسه کولو پرمهال د الله (ج) رضايت ترلاسه کړي د ريا او همدارنګه د کبر څخه ځان وساتي ځکه چې علم هم داسی يو پټ شهوت هم لري چې که چيرته د بنده زړه ته هغه ورسيږي نو هغه بيا د ځان ښودني او د کبر او شهرت مينه ورکي زياتيږي چې دا پخپله بيا په سلوکياتو باندی اغيزه کوي او ځان په خلکو باندي لوړ ګڼي نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته ددی څخه خبرداری راکړی او فرمايلي دي: څوک چې علم ترلاسه کوي ترڅو ناپوهانو باندي ځان وښايي او همدارنګه علماؤ باندي کبر وکړي او يا ددی لپآره ترلاسه کوي ترڅو خلک ديته لوړ وګوري نو هغه به په اور کې وي.
د آدابو د جملي څخه بل هم خشوع او عاجزي ده خليفه مالک رشيد ته داسی ليکلي کله چې ته علم ترلاسه کړي نو ته د هغه علم اغيزي او سکون بايد په تا کې وليدل شي ترڅو په تاکې عزت نرمښت او اطمئنان رامنځته شي نو د همدي لپاره عمر رضي الله عنه فرمايلي دي:علم ترلاسه کړي او همدارنګه د علم له لاري اطمئنان او عزت ترلاسه کړي ځکه چې علم د کبر سره برابر ندي او همدارنګه علم د ګناهونو سره نه جمع کيږي بلکي علم د هغه د غوښتني او د هڅو له کبله انسان ترلاسه کولی شي اود علم له کبله په انسان کې پرهيزګاري زياتيږي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ» ژباړه:« د الله له قهره ووېرېږئ، الله تاسي ته د عمل سمه لاره درښيي او الله پر هر څه پوه دی.» او په بل ځای کې فرمايي: فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا عِلْمًا»ژباړه:«او هلته هغوی زموږ له بندګانو څخه

يو بنده ومونده چي موږ په خپل رحمت سر لوړی کړی ؤ او له خپل لوري ښخه مو يو خاصه پوهه ورپه برخه کړې وه.» او بيا فرمايي:«فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلاًّ آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا» ژباړه:« نو په هغه وخت کښي موږ د فيصلې صحيح صورت سليمان (ع) ته وښودی. پداسي حال کښي چي موږ حکم او علم دواړو ته ورکړی ؤ»او د يحيى عليه السلامم په حق کې الله تعالى فرمايي:« }يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا» ژباړه:« "اې يحيا! د خدای کتاب ټينګ ونيسه!" - موږ هغه ته په ماشومتوب کښي(حکمت او نبوت) ورکړ.» او د ملائکو په ژبه فرمايي:«سُبْحَانَكَ لاَ عِلْمَ لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا » ژباړه:« هغوی عرض وکړ: "له نيمګړتيا ښخه خو پاك يوازي ستا ذات دی، موږ خو صرف دومره پوهه لرو چي تا موږ ته راکړې ده؛»

ددغه آدابو د جملي ښخه بل هم د عزت او وقار باندي ځان سمبالول دي ځکه چې علم پخپله يو داسی هيبت لويوالي او رونق لري چې هغه بايد په انسان کې رامنځته شي او ددی جملي ښخه يو هم دادی چې انسان په بنه ډول را ښکاره شي او ځان د لهو لهب ښخه ځان وژغوري، اوو عالم د سايل لپآره داسی دی لکه ډاکتر چي ناروغ لپآره وي نو لازمه ده چې په هغه باندی شفقت وکړي او د هغه لاس ونيسي او سمی لاری ته برابر کړي او هغه ته سمه لاره وښايي د معاويه بن حکم ښخه روايت دی وايي: مونږ د نبي کريم (ص) لمونځ کولو چې يو کس پرينجي وکړ نو ما وويل چې يرحمک الله نو ټولو ماته راکتل نو ماورته وويل چې ښه خبره ده چې تاسو ټول ماته راګوری نو ټولو خپل لاسونه په زنګونو ټپول نو کله چې ما هغوي ته وکتل نو ومی وليدل چې هغوي هڅه کوله چې ما غلی کړي کله چې پيغمبر (ص) لمونځ وکړ نو زما د په الله قسم وي چې ما داسی يو ښوونکې نه وو ليدلی د پيغمبر په ښير باندي نه د هغه ښخه مخکي نه وروسته نه يي ماته غوسه وکړه نه يی زه ووهلم او نه يي ماته ښکنځل وکړه.

همدارنګه ځیني نور داسی چاری شته چي طالب علم باید هغه په ځان کې راولي لدي جملي څخه د علم په ترلاسه کولو کې حرص درلودل او همیشه والی ورباندی کول او پدي کې باید ستړیا باید انسان حس نکړي وخت باید په هغه څه کې ضایع نکړي چي هغه فایده نه رسوي او کله چې امام شافعي رحمه الله څخه پوښتنه وکړي شوه چې ستا رغبت د علم لپآره څنګه دی؟هغه وویلي چې زه حس کوم چي داسی یو کلمه اوروم چې مخکې ما ندی اوریدلي نو ټول خپل د بدن غړي هماغه لپآره متوجه کوم ترڅو په ښه ډول هغه واورم بیا پوښتنه وکړړي سوه چي ستا حرص په هغه باندي څنګه دی؟ بیا یی وویلي چې د هغه چا لپآره چې د ډیر حرص د مال لپآره لري زه همداسی د علم لپآره لرم نو بیا ورنه پوښتنه وکړی شوه چي ته څنګه دا غواړی؟ وی ویل داسی غواړم ګویا د یو ښځه چي ځوي تري ورک وي او پخپل ځوي پسي ګرځي او هغه بل ځوي هم ونلري همداسی زه علم د هغه په څیر غواړمه.
د ښوونکي احترام او عزت کول: زدکونکي باید ښوونکي ته داسی یو خبره ونکړي چې د هغه احترام ته پري زیان رسیږي، امام شافعي رحمه الله فرمایلي دي ما د امام مالک رحمه الله په وړاندي ورقه او پاڼه ډیر په ارامه سره اړوله ځکه چې هغه یو ډول هیبت درلوده ترڅو د هغه غږ وانوري او ربیع رحمه الله فرمایي ما به ددي جرآت نه درلوده چي پداسی مهال اوبه وڅکم چې امام شافعي به ماته کتل ځکه هغه یو ډول هیبت درلوده او شاعر شوقي ته د الله خیر ورکړي چې ویلي دي:
د ښوونکي لپآره داسی یو ځاي وتاکه د ډیر اختارام له وجي* ګویا چې ښونکي یو ډول استاز دی*
بی له شکه مونږ دیته اړتیا لرو ترڅو ټول علوم ترلاسه کړو چې له کبله یي خپله دنیا هم آباده کړو او ددی په اندازه باندي چې مونږ هغه عاومو ته اړتیا لرو چې خپل دین چاری پرمخ یوسو ځکه مونږ ډیر وخت نلرو او علمي څیړنه او ابداعات او ابتکارات اوس د وخت سره لازمي ګرځیدلي

دي نو مونږ هم باید ددغه کښتي څخه شاته پاتی نشو او پدغه لاره کې پرمختک وکړو نو مونږ ټولو لپآره دا لازمه ده چې ابداعات رامنځته کړو او همدارنګه په علمي ډګر کې پرمختګ وکړو او همدارنګه باید مونږ ددی رغبت ولرو چې خپل ملت لوړو ځایونو ته ورسوو او همدارنګه د خپلو نیکو او پلرونو هغه لاره غوره کړو چې د علم لاره یې غوره کړې وه او همدارنګه د علم په ترلاسه کولو کې هڅه وکړو ترڅو لوړ ځای ترلاسه کړو او همدارنګه فنون هنرونه علوم ترلاسه کړو چې هغه ټولو ته ګټه رسوي او یو ډول ګټه ملتونو تمدنونو ته ورسو او زمونږ شعار پدي کې باید دا وي مونږ هغه څه جوړو چې پخوانیو به هغه جوړول او هغه څه ترلاسه کوو چې هغوي ترلاسه کول.
نو عالم او د علم د ترلاسه کوونکي یا د زدکوونکي د ټولو لپآره دا لازمه ده چې ښه اخلاق په ځان کې راولي او همدارنګه په هغه باندي عمل وکړي ترڅو په ټولنه کې اغیزمن وسي کله چې ملت د علم او د عمل او داخلاقو ترمنځ یوځایوالي راولي نو هغه ملت به په عزت او په لوړوالي کې ژوند کوې او هر کله چې اخلاق او علم سره راجمع شي نو هلته به ترقي پرمختک رامنځته کیږي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د اسلام مبارک دین د علم او د علماؤ شان لوړ کړی دی اګر که د هغوي تخصصونه هم توپیر ولري ګټه رسونکي علم ټولو علومو ته شامليږي چې خلکو ته پري ګټه رسیږي برابره خبره ده هغه که په دیني چارو کې وي

او که په دنیاوي چارو کې نو له همدي لپاره د الله جل جلاله دغه وینا گورو چې فرمایلي دي:« إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ»ژباړه:« حقیقت دا دی چي د الله د بندگانو څخه یوازي عالمان د هغه څخه وېریږي.» چې پدي کې د جهان او د نړۍ علوم هم راځي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ * وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَلِكَ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ» ژباړه:« ایا ته نه وینې چي الله له اسمانه اوبه اوروي او بیا د هغو په وسیله موږ راز راز مېوې راباسو چي مختلف رنگونه یې وي. په غرونو کښې هم سپیني، سرې او تکي توري لیکي (لاري) موندل کیږي چي ببلابېل رنگونه یې وي؟ * او په همدې ډول د انسانانو، څناورو او څارویو رنگونه هم مختلف دي. حقیقت دا دی چي د الله د بندگانو څخه یوازي عالمان د هغه څخه وېریږي. بېشکه الله برلاسی او بښونکی دی.» او په بل ځاي کې فرمایي:« إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُولِي الأَلْبَابِ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ» ژباړه:« د اسمانونو او ځمکي په پیدایښت او د شپې او ورځي په تگ راتگ کښې د هغو پوهانو لپاره ډیري نښاني دي*چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښې خدای یادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پیدایښت کښې غور او فکر کوي».

همدارنگه گټور علم څخه مقصد هر هغه علم دی چي خلکو ته پري گټه رسیږي او د هغوي په ژوند او د هغوي په آخرت کې پکار راځي برابره خبره ده چې دا شرعي علوم وي که د عربي علوم وي طب وي او که فارمسي فزیک کیمیا فلکیات انجینري انرژي او نور داسی علوم چې پدي کې راځي او خلکو ته پري گټه رسیږي ټول شامليږي نو علم د شخصیت او همدارنگه د ابداعاتو او د ابتکاراتو د رامنځته کولو لپاره یو بنسټ گڼل کیږي او ددی دلیل د الله جل جلاله دغه وینا ده چې فرمایي:« فَاسْأَلُوا أَهْلَ

الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ» ژباړه:« له با خبرو خلکو څخه پوښتنه وکړئ، که تاسي په خپله نه پوهېږئ،» نو د ذکر د کلمي څخه مقصد په ايت کې عام دی يواځي يو علم ت نه شامليږي دلته ټولو علومو ته دا شامليږي نو بی له شکه مونږ ديته ډيره اړتيا لرو چې په ټولو علومو کې تخصص ترلاسه کړو چې په ترڅ کې خپله دنيا هم آباده کړو او ددي اړتيا داسی ده لکه ديني علومو ته چې سنګه اړتيا لرو چې خپل آخرت پري جوړو.

په اوسني زماني کې د علم او د علماؤ او د شاګردانو لپاره دا لازمه ده چې غلط مفهومونه سم کړي او همدارنګه هغه غلط ذهنيت چې د اسلام او د مسلمانانو په هکله نوری نړۍ ته ورکړل شوی ده هغه سم کړي او همدارنګه د اسلام د مبارک دين منځلاريتوب فکر خپور کړي الله جل جلاله څخه مونږ سوال کوو چې ددغه منځلارو خلکو څخه مونږ وګرځوي او مونږ ته هغه څه راوښايي چې په هغه باندي مونږ نه پوهيږو او هغه څه مونږ ته راياد کړي چې مونږ نه هير شوي دي او زمونږ چاری سمي کړي.